د نیویارک ایالت

لنډه کتنه

د فارغ شویو موټر چلونکو جواز(لایسنس) ورکولو قانون (GDL)



د والدین لارښود

د New York State

ټول کاونټۍ پرته له

New York City او Long Island څخه

یادونه: دا لارښود د GDL لنډه کتنه وړاندې کوي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره، والدین باید د DMV ویب پاڼه په DMV.ny.gov ته مراجعه وکړي.

مخکې لدې چې ستاسو تنکی ځوان موټر وچلوی،
یو څو شیان شته چې تاسو دواړه باید پرې پوه شئ.

بد خبر: د تجربې د نشتوالي له امله، د تنکی ځوانانو د ټکر کولو احتمال ډیر دی.

ځوان موټر چلوونکي د نورو عمر ګروپونو په پرتله په ډیرو پیښو کې ښکیل دي. هغه ټکرونه چې تنکي ځوانان پکې شامل وي ډیر جدي هم وي. د نه ځارنې موټر چلولو لومړی کال د تجربې د نشتوالي له امله تر ټولو خطرناک دی.

ښه خبر: د موټر چلولو د جواز(لایسنس) قوانینو څخه فارغیدل ژوند ژغوري.

د ټکرونو مخنیوی کېدای شي. د نیویارک ایالت (NYS) د موټر چلولو د جواز(GDL) قانون د تنکی ځوانانو د ټکرونو مخنیوي لپاره ډیزاین شوی ترڅو ځوانانو سره په تدریجي او خوندي ډول د دوی مهارتونو په رامینځته کولو او د موټر چلولو تجربه ترلاسه کولو کې مرسته وکړي. ثبوت ته اړتیا لرئ؟

د نیویارک ښار د موټر چلولو د جواز (GDL) قانون د ۱۶ او ۱۷ کلنو موټر چلوونکو لپاره د ټکرونو د ۸۰٪ سلنی کمښت لامل دی. په قانون کې د هر محدودیت لپاره یو اساس شتون لري (د مسافرینو په شمیر محدودیت، ګرځښندیز، او نور).

څېړنې ښایي چې دا ستراتیژۍ کار کوي.

تاسو څه کولی شئ ترڅو خپل ځوان موټر چلوونکي خوندي وساتی؟

کله چې ستاسو تنکی ځوان د موټر چلوونکي په څوکۍ کې وي، ستاسو مسوولیت یوازی د یو مسافر اوسیدو څخه زیات دی. ته د خپل تنکي موټرچلوونکي لپاره تر ټولو مهم اغېز لرونکی کس یې. د قانون سره د بلدتیا لپاره له دې لارښود څخه کار واخلئ ترڅو خپل ځوان موټر چلوونکي سره د دواړو، د سړکونو او پروسې په لارښود او د غیر محدود جواز(لایسنس) ترلاسه کولو کې مرسته وکړئ!



دا لارښود د تنکی ځوانانو پرمټ(د موټر چلولو اجازه لیک د سرپرست په شتون کی) او تنکی ځوانانو لایسنس (د موټر چلولو اجازه لیک په یوازی ټوګه) لپاره د GDL محدودیتونه تشریح کوي چې په اپستیټ نیویارک کې موټر چلوي (ټولې ولسوالۍ پرته له نیویارک ښار او لونګ ټاپو).

محدودیتونه ستاسو د ځوانانو د موټر چلولو ځای ته پلي کیږي، نه هغه ځای ته چې تاسو پکې ژوند کوئ.

د جواز ورکولو پراوونه

د ځوانو موټر چلوونکو لپاره د جواز ورکولو درې مرحلې شتون لري:

۱ د تنکی (کم عمره) ځوان پرمټ/ د تنکی (کم عمره)ځوان د موټرسایکل پرمټ

- لږ تر لږه عمر ۱۶ کاله وی.
- لیکلي ازموینه پاس کول اړین دي.
- د موټر چلولو پر مهال باید د والدین ځارنه ولری.
- د نورو معلوماتو لپاره دریم مخ وګورئ.

۲ د تنکی ځوان لایسنس / د تنکی ځوان د موټرسایکل لایسنس (محدود)

- بې له ځارنې موټر چلولو ته د ګرځښندیز او مسافرینو محدودیتونو په پام کی نیولو سره اجازه ورکوي.
- د نورو معلوماتو لپاره پنځم مخ وګورئ.

۳ محدودیت پرته چلوونکی/ د موټرسایکل لایسنس(د چلولو اجازه لیک په یوازی ټوګه)

- لږ تر لږه عمر ۱۸ کاله وی، یا د موټر چلولو زده کړې سره ۱۷ کاله وی.
- دا یو غیر محدود جواز دی (د GDL محدودیتونو تابع نه دی).
- د نورو معلوماتو لپاره ۹ مخ وګورئ.

د جواز ورکولو د ټولو دریو مرحلو څخه تیریدل ستاسو تنکي ځوانانو ته هغه وخت او تجربه ورکوي چې دوی ورته اړتیا لري ترڅو یو خوندي موټر چلوونکی شي.

په یاد ولرئ: د هر څه په څیر، تاسو خپل ماشوم ښه پیژنئ. هغه محدودیتونه چې پدې لارښود کې تشریح شوي دي هغه ترټولو لږ د خوندیتوب قواعد دي چې ستاسو تنکي ځوان یې باید تعقیب کړي. که تاسو احساس کوئ چې ستاسو ماشوم د موټر چلولو د اضافي مسؤلیت لپاره چمتو نه دی، نو تاسو ممکن ډیر محدودیتونو وضع کول غوره کړئ.

لومړی پراو: د تنکی ځوان پرمټ(د موټر چلولو اجازه لیک د سرپرست په شتون کی)

دا د زده کړې مرحله ده. دا ځوان موټر چلوونکو ته اجازه ورکوي چې د محدود موټر چلولو له لارې د موټر چلولو اساسات زده کړي.

د تنکی ځوان د جواز(پرمټ) غوښتنه کولو لپاره ستاسو ماشوم باید:

- لږ تر لږه ۱۶ کلن وي.
- د هویت ثبوت ولرئ (د مثال په توګه، پاسپورټ، د ټولنیز امنیت کارت) او ازموینې ته یې راوړئ.
- د نیویارک ایالت د موټر چلولو لارښود مطالعه کړئ (د دی لارښود چاپ شوي کاپي د DMV په سیمه ایزو دفترونو کې شتون لري او آنلاین نسخه یې په http://dmv.ny.gov/driver-license/drivers-manual-practice-tests کې شتون لري).
- یو غوښتنلیک ډک کړئ (د DMV فورمه MV-44).
- لیکلي ازموینه او د سترګو ازموینه پاس کړئ.

د تنکی ځوان جواز (پرمټ)، ازموینې، فورمو او فیسونو ترلاسه کولو په اړه د نورو معلوماتو لپاره، د NYS DMV ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ:

http://dmv.ny.gov/driver-license/get-learner-permit

خپل ځوان د بریالیتوب لپاره چمتو کړئ!

مخکې له دې چې ستاسو تنکي ځوان سړک ته راشي، یوځای کینئ او د موټر چلولو ټرون جوړ کړئ ترڅو د موټر چلولو خوندي چلندونه، قوانین او د هغوی د ماتولو پایلې وټاکي. د نمونې ټرون لپاره، لیدنه وکړئ:

www.safeny.ny.gov/SRO-Toolkit/contract.html

اوس د موټر چلولو تمرین پیل کیږي!

د خوندي موټر چلوونکي په منځته راوړلو کې یوازینی مهم فکتور تمرین دی. مخکې لدې چې ستاسو تنکي ځوان د سړک ازموینه ورکړي، دوی باید د والدینو لخوا موټر چلولو تصدیق او نظارت شوي لږترلږه 50 ساعته بشپړ کړي، چې له دې ساعتونو څخه 15 یې د ماړ لوبدو وروسته اوسیدل اړین دي. د موټر چلولو د تمریناتو د لاګ څخه کار واخلئ ترڅو د هغو ساعتونو شمیر تعقیب کړئ چې تاسو او ستاسو تنکی ځوان یوځای موټر چلولی دی. تاسو ممکن وغواړئ چې ولیکئ هغه مهارتونه چې تمرین شوي، هغه مهارتونه چې ترلاسه شوی، او هغه نوي مهارتونه چې کار پرې وکړئ. د نیویارک سټیشن د تنکیو ډرایورانو د سرچینو لارښود په ۲۵ مخ کې یو لاک په لاندې پته شتون لري:

http://www.nxtbook.com/nxtbooks/nysdmv/teenresourceguide/#/30





د تنکی ځوانانو جواز(پرمټ) محدودیتونه
د نیویارک اپسټیټ

اجازه ورکړل شوې فعالیت = ✓ اجازه نه ورکول کېدونکی فعالیت = X

	د ورځې له خوا سهار ۵ بجې - ماښام ۹ بجې	د شپې له خوا د شپې له ۹ بجو ځخه تر ۵ بجو پورې
د تنکی ځوان جواز(پرمټ) لرونکي کسان یوازې د ځارنی په شتون کی موټر چلولی شي	باید د +۲۱، NYS جواز لرونکي تر ځارنې لاندې وي. ✓	باید د +۲۱ عمر لرونکو، د NYS جواز لرونکي تر ځارنې لاندې وي کوم چې کیدای شی پلار او مور ، سرپرست، د موټر چلولو زده کړې ښوونکی/د موټر چلولو ښوونځي ښوونکی وي، یا هم د په ځایې پالونکو کې ټاکل شوی کس وي[1]. ✓

- د ځارونکي موټر چلوونکي پرته بل ځوک په مخکینۍ ځوکۍ کې ناست نه وی.
- مور او پلار/سرپرست د ځارونکي موټر چلوونکي په توګه: د شا ځوکۍ د مسافرو په شمیر کې هیڅ محدودیت نشته. که چیرې ځارونکی موټر چلوونکی مور او پلار/سرپرست نه وي (یوازې د ورځې وخت): یوازې یو مسافر چې عمر یې د 21 کلونو ځخه کم وی اجازه لری، مګر دا چې مسافر د کورنۍ نږدې غړی وي.
- هر مسافر باید د ځوکی کمربند واغوندي او هر ماشوم مسافر باید د ماشومانو لپاره سم محافظتي ځوکی وکاروي. د NYS د ځوکیو نیونکو مسافرو د محدودیت قانون په اړه د نورو معلوماتو لپاره، www.safeny.ny.gov/sesa-ndx.htm ته مراجعه وکړئ.
- په NYS کې د جواز (پرمټ) لرونکو لپاره د موټر چلولو، کارول شوی موټر باید دوه ګونی کنټرولونه (دوه ګونی بریکونه) ولري. د نورو محدودیتونو لپاره د NYC GDL لارښود وګورئ. په Cross County Parkway، Hutchinson River Parkway، Saw Mill River Parkway، او Taconic State Parkway باندې موټر چلول منع دي، همدارنګه د NYC دننه په هر هغه سړک کې چې د پارک برخه وي، او په هر پل یا تونل کې چې د Triborough Bridge and Tunnel Authority تر واک لاندې وي، موټر چلول اجازه نه لري.
- د موټرسایکل پرمټ(د چلولو اجازه لیک د سرپرست په شتون کی) د ځوانانو لایسنس لپاره: ځارونکی چلوونکی باید همغه د چلولو جواز(لایسنس) ولري کوم چې ستاسو تنکی ځوان یې چلوي، او باید د یو مایل په ځلورمه برخی فاصله کی دننه اوسیدلو اصل رعایت کولو سره عمومي ځارنه او کنټرول په لاس کی ولری. هیڅ مسافر حق نلری مګر پرته لدې چې هغه مسافر د موټرسایکل معتبر او غیر محدود جواز ولري.

جریمې: جریمی ۳۰۰-۷۵ زندان: اعظمي حد ۱۵ ورځې

محلي والدین[1]= هغه ځوک چې په منظم ډول/پراخه توګه د والدینو کردار په غاړه اخیستی وي او د طبیعي والدینو د مرینې، معلولیت یا نشتوالي په پایله کې د والدینو دندې ترسره کوي.

د دوهم پړاو (د تنکی ځوان لایسنس) ته د تګ لپاره ستاسو ځوان باید:

- د دوی د تنکی ځوان پرمټ لږ تر لږه د شپږو میاشتو لپاره وساتئ.
- د لایسنس ورکولو دمخه کورس یا د موټر چلولو زده کړې کورس (چې ورته "5 ساعته کورس" هم ویل کیږي) واخلئ.
- د سړک ازموینې ورکولو دمخه، د والدینو لخوا تصدیق او نظارت شوي موټر چلولو 50 ساعته بشپړ کړئ وی، چې له دې څخه 15 ساعته یې د ماښام لوېدو وروسته اوسیدل اړین دي.

  (د تمرین لاګ د NYS تنکیو موټر چلوونکو د سرچینو لارښود په ۲۵ مخ کې په http://www.nxtbook.com/nxtbooks/nysdmv/teenresourceguide/#/30 کې شتون لري)
- د څارنې لاندې موټر چلولو تصدیق لپاره د DMV فورمه MV-262 ډکه کړئ.
  http://dmv.ny.gov/forms/mv262.pdf
- د سړک ازموینی مهالویش جوړ او ازموینه واخلی.

دوهمه مرحله: د تنکی ځوان لایسنس(د چلولو اجازه لیک په یوازی ټوګه)

دا د روزنې مرحله ده. دا ځوان موټر چلوونکي ته اجازه ورکوي چې د تنکی ځوان پرمټ مرحلې په جریان کې زده شوي درسونه تمرین کړي او انکشاف ورکړي. اضافي امتیازات له دې ځایه پیل کیږي.

هغه محدودیتونه چې د ځوانو لایسنس لرونکو لپاره په دې لارښود کې تشریح شوي دا هغه ترټولو لږه د خوندیتوب قواعد دي چې ستاسو تنکي ځوان یې باید تعقیب کړي. که تاسو احساس کوئ چې ستاسو ځوان د چلولو د اضافي مسؤلیت لپاره چمتو نه دی، نو تاسو ممکن ډیر محدودیتونه وضع کړی.



د تنکی ځوانانو لایسنس محدودیتونه

د نیویارک اپسټیټ

اجازه ورکړل شوې فعالیت = ✓ اجازه نه ورکړل شوې فعالیت = X

تنکی لایسنس لرونکي ځوانان ښایی وکولی شي پرته له ځارنې څخه موټر وچلوي ترڅو:	د ورځې له خوا سهار ۵ بجې - ماښام ۹ بجې	د شپې له خوا د شپې له ۹ بجو څخه تر سهار ۵ بجو پورې، مستقیم کور ته او له کوره:
د ښوونځي کورسونه[2]	✓	د مجاز فعالیتونو لپاره، ستاسو تنکي ځوان باید د خپل ښوونکي یا کار ورکوونکي لخوا لاسلیک شوي اسناد ولري.
کار	✓	✓
ټول نور فعالیتونه، په شمول د ښوونځي غیر نصابي، سپورتي او ټولنیزو پیښو	✓	ستاسو تنکی ځوان ممکن د کار په جریان کې موټر ونه چلوي (د توکو لیږدول، او نور). X د شپې د ټولو فعالیتونو لپاره، ستاسو تنکی ځوان کولی شي د ځارونکي موټر چلوونکي سره موټر وچلوي.[3]

- د موټر چلوونکي له ځارنې پرته [3]: یوازې د یو مسافر د سفر اجازه ده چې د ۲۱ کلونو څخه کم عمر ولري، مګر دا چې مسافر د کورنۍ نږدې غړي وي. د ځارونکي موټر چلوونکي سره [3]: د مسافرو په شمیر کې هیڅ محدودیت نشته.
- هر کس باید د خوندیتوب کمربند یا د ماشومانو د خوندیتوب څوکۍ په واسطه په سمه توګه وټرل شي.
- د تنکی ځوان موټرسایکل لایسنس: ځارونکی چلوونکی باید د موټرسایکل چلولو پرمهال یوازې د زده کونکي عمومي ځارنه او کنټرول ولري. هیڅ مسافر حق نلري مګر چې هغه مسافر د موټرسایکل یو معتبر او غیر محدود لایسنس جواز ولري.
- په NYC کې چلول، د هر دلیل لپاره، د تنکی ځوان لایسنس سره منع دي. سربېره پر دې، په NYC کې د هر هغه سړک پر سر چې د پارک برخه وي موټر چلول منع دي، او همدارنګه په هر پل یا تونل کې چې د Tri-borough Bridge and Tunnel Authority تر واک لاندې وي، او همدارنګه په Cross County Parkway، Hutchinson River Parkway، Saw Mill River Parkway، او Taconic State Parkway باندې د چلولو اجازه نه لري.

جریمې: جریمې ۳۰۰-۷۵ زندان: اعظمي حد ۱۵ ورځې

د ښوونځي کورس[2] = لارښوونه، تعلیم یا روزنه چې د دولتي اداري یا ځانګې لخوا جواز یا تصویب شوې وي، یا د متحده ایالاتو د وسله والو ځواکونو لخوا وړاندی شوی وی. د "ښوونځي کورس" اصطلاح هغه غیر نصابي فعالیتونه، سپورتونه یا ټولنیز پیښې نه شاملوي چې د هغې لپاره هیڅ ډول اکاډمیک کریډیټ نه ورکول کیږي.

ځارونکی چلوونکی[3] = د ۲۱+، د NYS جواز لرونکی چې کیدای شی مور او پلار، سرپرست، د موټر چلولو زده کړې ښوونکی/د موټر چلولو ښوونځي ښوونکی، یا یو کس چې د په خایي پالونکو کې ټاکل شوی وي اوسی.

تعلیقونه او لغوه کول

د موټر چلولو پرمهال د هر ډول برېښنایي وسایلو کارول د ټولو چلوونکو لپاره د قانون خلاف دي.

جزاګانې:

د ګرځنده تلیفون کارولو یا د متن لیږلو سرغړونې لومړۍ قضیه
د ۱۲۰ ورځو لپاره د څوان پرمټ څنډولو او ۵ نمرو پایله لري.

د جواز د بیرته ترلاسه کولو څخه په شپږو میاشتو کې دوهم ځل محکومیت د جواز لپاره لږترلږه یو کال لغوه کیدو او 5 نمرو پایله لري.

د نیویارک ایالت د "صفر زغم قانون" لاندې، د 21 کلونو څخه کم عمر لرونکی چلوونکی نشي کولی په قانوني ډول د 0.02 یا پورته د وینې الکول سره موټر وچلوی (هغه کچه چې ممکن د خولې مینځلو یا د ټوخي شربت کارولو څخه رامینځته شي).

جزاګانې:

د لایسنس د شپږو میاشتو څنډول، د ۱۲۵ ډالرو مدني جریمه، او د ۱۰۰ ډالرو د څنډولو فیس.

د هر اضافي سرغړونې پایله به د لږ تر لږه یو کال یا تر ۲۱ کلنۍ پورې به(هر هغه چې اوږده وي) د څوان پرمټ لغوه شي، او همدارنګه د ۱۲۵ ډالرو مدني جریمه، او د ۱۰۰ ډالرو د جواز د بیا غوښتنلیک فیس وی.



که چیرې دوی له لاندې سرغړونو څخه له یوې څخه ډیرې ولري نو څه به پیښ شي؟

ستاسو د تنکي ځوان پرمټ یا لایسنس به د 60 ورځو لپاره وځنډول شي که چیرې دوی د دوه سرغړونو په تور محکوم شي او دوی پرمټ یا لایسنس ولري.

د دوی جواز به د 60 ورځو لپاره وځنډول شي که چیرې دوی د "جدي ترافیکي سرغړونې" (معمولا درې یا ډیر ټکو) په تور محکوم شي، لکه د چلولو پرمهال تیز سرعت یا پیغام لیږل. د تعلیق له پای ته رسیدو وروسته، که ستاسو ځوان چلوونکی د 6 میاشتو په مودې کې د یوې جدي ترافیکي سرغړونې یا دوه نورو سرغړونو سره محکوم شي، د دوی د ځوان پرمټ یا لایسنس به د 60 ورځو لپاره لغوه شي.

که چیرې لایسنس وځنډول شي، ستاسو تنکی ځوان کولی شي د تعلیق موده پای ته رسیدو وروسته بیا موټر وچلوی. که چیرې لایسنس لغوه شي، نو دا په بشپړه توګه له لاسه ورکول کیږي، او ستاسو تنکي ځوان باید بیا پیل وکړي او د 60 ورځو وروسته د جواز لپاره غوښتنه وکړي.

د خپل تنکي ځوان د چلولو څارنه وکړئ!

د NYS DMV سره د TEENS پروګرام کې نوم لیکنه وکړئ - تاسو به یو خبرتیا ترلاسه کړئ کله چې ځانګړي پیښې (ټکټونه، د ترافیک سرغړونې محکومیتونه، د چلولو جواز ځنډول، او ځینې پیښې) ستاسو د تنکي ځوان د موټر چلولو ریکارډ کې اضافه شي.

http://dmv.ny.gov/dmv-records/monitor-my-teen-driver-teens

تاسو کیلي کنټرولوئ.

د هغه مور او پلار یا سرپرست په توګه چې ستاسو تنکي ځوان ته یې د ځوان پرمټ یا لایسنس ورکولو موافقه کړې، تاسو حق لرئ چې د خپل تنکي ځوان پرمټ یا لایسنس لغوه کړئ که تاسو احساس کوئ چې دوی باید د موټر چلولو اجازه ونلري. د DMV فورمه
MV-1W (د رضایت بیرته اخیستل) ډکه کړئ او DMV ته یې وسپارئ.

http://dmv.ny.gov/forms/mv1w.pdf



دریمه مرحله: غیر محدود جواز

یو بشپړ، غیر محدود لایسنس به هر هغه چا ته چې د ځوان لایسنس ولرى د اتلسمې کلیزې وروسته به، په پوست کې واستول شي. یو غیر محدود جواز هماغه جواز دی چې لویان یې لري او ستاسو تنکي ځوانانو ته اجازه ورکوي چې په نیویارک ایالت کې هرچیرې پرته له ګرځېندیز یا د مسافرینو وړلو محدودیتونو څخه موټر وچلوي.

هغه تنکي ځوانان چې د موټر چلولو زده کړې کورس یې اخیستی دی:

ستاسو تنکي ځوان کولی شي د ۱۷ کلنۍ په عمر کې د خپل بشپړ جواز لپاره غوښتنه وکړي که چیرې دوی د چلولو د زده کړې له منظور شوي کورس څخه د زده کونکي د بشپړیدو سند (DMV فورمه MV-285) ترلاسه کړي. کله چې ستاسو ۱۷ کلن موټر چلوونکی خپله د سړک ازموینه پاس کړي او MV-285 فورم DMV ته وسپاري، نو دوی ته یو غیر محدود جواز ورکول کیږي. که ستاسو تنکي ځوان خپل MV-285 فورمه تسلیم نه کړي، دوی به بیا هم د تنکی ځوان لایسنس لرونکی وګڼل شي او باید د GDL محدودیتونو تعقیب ته دوام ورکړي.

خوندي چلول تمرین ته ارتیا لري

د محدود یت پرته جواز ترلاسه کول د موټر چلولو زده کړې پای ته رسیدو معنی نلري. کلونه وخت نیسي مخکې لدې چې یو کس د موټر چلولو مهارت ترلاسه کړي. ځوانان ممکن حتی په خپل ښوونځي یا نورو ښوونځیو کې داسې خلک وپیژني چې په ټکرونو کې مړه شوي یا سخت ټپیان شوي وي. دوی لاهم د عامو خلکو په پرتله په لوی خطر کې دي. هغوی وهڅوئ چې د خوندي چلولو چلند زده کړه او تمرین ته دوام ورکړي.





مهم ټکي

د ټنکی ځوان پرمټ(د موټر چلولو اجازه لیک د سرپرست په شتون کی)

- تمرین، تمرین، تمرین.
- یوازې د ځارونکي چلوونکي سره موټر چلولی شي.
- د سړک ازموینې اخیستلو دمخه باید لږ تر لږه شپږ میاشتې انتظار وکړئ.
- که چیرې په نیویارک ښار کې یی چلوئ، نو باید دوه کونی بریک لرونکی موټر ولرئ.
- د ځوان لایسنس ترلاسه کولو لپاره باید د سړک ازموینه پاس کړئ.
- د نورو جزیاتو لپاره ۴ مخ وګورئ.

د ټنکی ځوان لایسنس (د چلولو اجازه لیک په یوازې توګه)

- د شپې له ۹ بجو څخه تر سهار ۵ بجو پورې چلول منع دي.
- یوازې یو مسافر د ۲۱ کلونو څخه کم عمر لرونکی درلودلی شي.
- د چلولو پرمهال الکترونیکي وسایل نشي کارولی (په ټولو چلوونکو باندې تطبیق کیږي).
- په NYC کې نشي چلولی.
- د نورو جزیاتو لپاره ۶ مخ وګورئ.

په یاد ولرئ: د ځوانانو د پرمټ او لایسنس محدودیتونه په هغه ځای کې پلي کیږي چیرې چې تاسو موټر چلوئ، نه په هغه ځای کې چې تاسو ژوند کوئ.





د دې خپرونې په اړه د پوښتنو یا د کاپیانو د غوښتنې کولو لپاره، اړیکه ونیسئ:

New York State Department of Health

(د نیویارک ایالت د روغتیا وزارت)

Bureau of Occupational Health and Injury Prevention

(د حرفوي روغتیا او ټپي کیدو مخنیوي اداره)

تلیفون: (518) 402-7900

برېښنالیک: injury@health.ny.gov

د فارغ شوي موټر چلولو جواز قانون په اړه د نورو معلوماتو لپاره، د New York State Department of Motor Vehicles (نیویارک ایالت د موټرو وزارت) ویب پاڼه وګورئ:

www.dmv.ny.gov/youngerdriver

د NYS Governor's Traffic Safety Committee(نیویارک ایالت د والي د ترافیک خوندیتوب کمیټې) په مرسته د National Highway Traffic Safety Administration (ملي لویې لارې د ترافیک خوندیتوب اداره) لخوا تمویل شوی ده.

NEW YORK STATE | Department of Health

8236 (Pashto)

5/19